بسم الله الرحمن الرحيم

# په پاکستان کې ولې پاتې شو؛ ایا دا ډوبېدونکې کښتۍ ده؟

د دغو ورځو تود بحث دا دی چې څنګه ژر تر ژره له پاکستانه ځان وباسو. دغه هېواد له اقتصادي او امنیتي اړخه په چټکۍ د ډوبېدو په حال کې دی؛ ولې تر بشپړ ډوبېدو وړاندې ځان ترې ونه باسو؟

له پاکستانه وتل ډېر مالي لګښتونه لري؛ د مشورې فیس، قانوني لګښتونه او د سفر لګښتونه. په بهر کې ژده کړه ګرانه ده. د ژوند لګښتونه هر ځای لوړېږي؛ بېکاري او پوروونه هم همداسې درواخله. بلخوا معاشونه په کافي اندازه نه لوړېږي. سربېره پردې، رزق یوازې د الله سبحانه وتعالی په لاس کې دی. سختۍ او اسانۍ هم په پاکستان کې راسره دي او هم د نړۍ په نورو هېوادونو کې.

زموږ د جېبونو خبره پر خپل ځای؛ نیږدې خپلوان به مو څنګه کوو؟ والدین او نیکونه مو چې ملاتړ ته اړتیا لري، پرېږدو. ملګري او ټولنې مو چې ملاتړ کوي، پرېږدو. له دې سره سره غربي ښوونځي زموږ د ماشومانو د دین دښمنان دي. د کډوالو پر وړاندې هم له کرکې ډک چلند او دښمني زیاته شوې.

هرڅوک له دغې کښتۍ ټوپ نه شي وهلی. ډېری کسان یوازې په بې پایله هڅو پیسې ضایع کوي. له کښتۍ څخه ټوپ وهل ښايي یو څو سوه زرو کسانو ته حللاره وي؛ خو ۲۵۰ میلیونه کسانو ته نه ده.

که د دغې ډوبېدونکې کښتۍ ژغورلو ته کومه حللاره وي، نو بیا!؟

د دغې کښتۍ د ډوبېدو سبب حاکم نظام دی. پاکستان پرېمانه سرچینې لري خو حاکم نظام بېوزله کړی. په پرمختللې نړۍ کې هم کیسه همداسې ده.

د خپلې کښتۍ ژغورولو لپاره، باید حاکم نظام پرېږدو. باید اسلام او د اسلام د حکومتولۍ نظام، خلافت حاکم کړو. خلافت څو پیړۍ اسلامي امت ته د نړۍ رهبري ورکړې وه؛ د خلافت تر سیوري لاندې مو هم امنیت و او هم سوکالي.

موږ ټولو ته پکار ده چې د خلافت د بیا تاسیس لپاره کار وکړو. دا کار سخت دی او قربانۍ غواړي؛ خو دا چې دا کار د الله سبحانه و تعالی د رضا لپاره کېږي، نو تر ټولو غوره کار دی.

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**مصعب عمیر – ولایه پاکستان**

**۱۴۴۵ هـ.ق، د صفر ۵مه**
**۲۰۲۳م، د اګسټ ۲۱مه**